


**پادونه: د "افغانستان د ژغورنې د ملي ټلوالې عالي شورا" تنظیموونکو ته!**

**د ملي خبرو،اترو د خوځښت د نه توافق او ورته والي په اړه یادونه**

د ۲۰۲۲ کال د نومبر ۱۳مه نیټه!

---

د افغانستان د ژغورنې لپاره د ملي، پرمختللو(مترقی)، دموکراتیکو او وطنپالو ځواکونو یووالی او ترون د ټولو ملتپالو ستر شعار او ګډ هدف دی، ځکه پرته له داسې ملي پیوستونه،د ترهګرۍ،افراطیت او وروسته پاتې والی له ناوړه کندې د وطن ژغورل ګران او ستونزمن کار دی.

په دې وروستیو کې یو شمېرهېوادوالو د "افغانستان د ژغورنې د ملي ټلوالې د عالي شورا" درامنځ ته کولو تر نامه لاندې خپلې هڅې روانې کړې.
دغه هېوادوال، څرنګه چه خپله وایي،په پام کې لری د بېلا بېلو بنسټونه ،خپلواکې او ډموکراسۍ ته ژمن کړی او شخصیتونه د "**ملی خبرو اترو د خوځښت**"د لوي چتر په ګډون د ایتلاف تر چتر لاندې ټول ، او د خپل ګران هېواد افغانستان له اوسني ناورین څخه د ژغورلو لپاره یې هڅو ته لاربښونه وکړي.
**د ملي همغږۍ د انسجام شورا** د دغو هېوادوالو ښه نیت د ستاینې وړ بولي، خو د دې حرکت تنظیموونکو ته په درنښت خبر ورکوي، چې،د **ملي خبرو اترو خوځښت** د یو ستر چتر(ترون) په توګه له اتو میاشتو راهیسې په دې برخه کې کار او هاند کوي .

د (۲۰۲۲ ځیږدیز کال د جولای په ۶)نیټه، د **ملي خبرو اترو خوځښت** په رسمي توګه، خپل شتون اعلان او د خپل پالیسي سند (**د ملی خبرو اترو لید لور**)یې تصویب کړ.

د "**ملي خبرو اترو**" د جوړښت کمیسیون چه د مارچ په 22، کال 2022 کې یې د پالیسۍ پر سند کار پیل کړ،له لومړۍ ورځې څخه یې د ملي، ژمن، وطنپالو او دموکراتیکو ځواکونو د همغږي ستره دنده یې خپله موخه ګڼلې او په کاری پروګرام(اجنډا )کې یې ځای کړې.

**د ملي خبرو اترو** په "لید لور" کی ویل شوي چې : "**د همدې لپاره اړتیا ده چې سر له ننه لاس په کار شو او... د افغانستان په دننه او بهر کې ټول هغه افغانان چه ملی فکر کوې ، د ملی او ټولنیزو**

**فعالانو په ګډون بابد د اغیزمنو او سنجول شوو موخو ،د ملی فکر او سیاسي کړنو اغیزمن پلان پر شاوخوا او چوکاټ کې سره را ټول شي."**

د **" ملی موخو د لید لور(د عمل برنامی)"** لومړی فقره داسې وایي:

**" د یووالي شورا رامنځته کول، د افغان ( دیاسپورا) مهاجرینو د افغانستان په دننه او بهر کې ټول هغه افغانان چه ملی فکر کوي ، د ملی او ټولنیزو فعالانو په ګډون بابد د اغیزمنو او سنجول شوو موخو ،د ملی فکر او سیاسي کړنو اغیزمن پلان پر شاوخوا او چوکاټ کې سره را ټول شي. د پراخ یووالي د تامین په موخه د سیاسي، فرهنګي او صنفي اتحادیو د سازمانونو او "غیرو ښکیلو ملي شخصیتونو"** د ګډون په لاره کی دوامداره کار او هڅه کوي.

د ملی خبرو اترو د تشکیلاتی اصولو په سند کې چې د مختلفو بنسټونو جوړښت او عملي دندې ټاکي، ویل شوي چه:

**" د ملي خبرو اترو خوځښت د سیاسي، ټولنیزو سازمانونو ،کړیو او خپلواکو اشخاصو د نظر او عمل په یووالي چه د ملی خبرو اترو پر لید لور (د خپل تشکیلاتی جوړښت ته په درناوی او استقلالیت)سره موافقه کړی را منځ ته شوی.**

**د افغانستان د ملي خبرو اترو خوځښت د یو همغږي بنسټ په توګه، به دا ځواکونه د عدالت غوښتني،همغږي، او یووالي په لاره کی د مبارزی لپاره په سالمه او ګټوره توګه د ملی موخو د پلي کولو په لور لارښوونه وکړي."**

د ملي خبرو اترو دارالانشا،د همغږۍ شورا، د تفاهم او انسجام کمیسیون او د ملي همغږي د تماس ډلې له لسو څخه زیاتو خپلواکو بنسټونو سره چې دوه یي په بهر کې د افغانانو تر ټولو لوی سیاسي بنسټونه دي، د خبرو اترو (ګډ کار او ایتلاف)څو پړاوونه ترسره کړي او د پروتوکول د لاسلیک په درشل کې دي.

تر کوه مو چه بیان کړل او څرنګه چه محترم جمشید پایمرد د ملی خبرو اترو د خوځښت مرستیال د "ملی یو والی د عالي شورا" د کار په پیل په خپل واتسپ کی ویلي وه،د ملی خبرو اترو د خوځښت وړاندیز او مشوره د «افغانستان د ملی وحدت عالی شورا»تنظیمونکو ته دا ده چه:

مشورې او وړاندیزونه مو دا دی که کله دوی په ربښتیني ډول د افغانستان د ژغورني په موخه د هېواد دننه او بهر د ملي او وطنپالو ځواکونو همکاري، ایتلاف او بالاخره د ملي او وطنپالو ځواکونو یووالی غواړي نو د ملي خبرو سره چې واقعاً یې په دې برخه کې یي کار پیل کړی او په بریالیتوب سره مخ په وړاندې روان دی یو شي ، او باید د داسو غونډو له جوړولو ډډه وکړي چې د یووالي پر ځای د ویش ،لیري توب او حتی د دغو قوتونو د یو بل سره د ټکر لامل کیږی په رغنده ډډه وکړي.

باید زیاته کړو چه،دا د حیرانتیا خبره ده چی د" افغانستان د ژغورنی لپاره د ملی ټلوالی عالی شورا" تنظیمونکو،د افغانستان لپاره د "**ملی خبرو اترو د خوځښت** "لید لوری" بي له کوم بدلون او حتی د یوي ټکی او جملی له بدلولو پرته د خپل موخي په توګه ټاکی،او د سند په وروستی برخی کې یي د" راتلونکي نظام د اساساتو وړاندیز" تر عنوان لاندي یې وړاندی کوی(د معلوماتو د پوره کولو لپاره د "ملی خبرو اترو د خوځښت"او د "ملی تړوالی د عالی شورا" لخوا وړاندیز شوو سندونو ته دی مراجعه وشي).

د ملی خبرو اترو د خوځښت سره د یو ځای کیدو پر ځای دوی د یو بل ټلوالی د رامنځ ته کیدو هڅې پیل کړي.

نو په دې اساس تاسو محترمینو ته خبر درکوو چې ستاسو په وړاندیز شوې غونډې کې ملي خبرې اترو خوځښت ګډون نه کوي، دا ځکه چه:

د داسو غونډو ترسره کول غیر ضروري، بې ګټې او د ملي خبرو د فعالیتونو تکرار ګڼي او ردوي يې .

سربيره پردې، مهرباني وکړئ د ګډون کوونکو او بلونکو له لسته څخه د افغانستان ملي خبرو اترو د خوځښت نوم لرې کړئ.

**په درنښت**

**د افغانستان د ملي خبرو اترو د خوځښت د همغږۍ شورا.**

***